شیرمحمد اميني ستانکزی ۲۰۱۷/۰۸/۰۶

# ليکوالي بايد په څه ډول وشي؟

ليکوال يا ليکونکی دولس په غوښتنه نه؛ بلکې د ولس په طمعه هغه څه وړاندې کړي، چې ولس او ټولنه دواړه ورته اړتيا لري. ليکونکی دټولني لپاره سترانځور اخيستونکی ده، چې د ولس او ټولني دردونه، واقعيتونه غوښتنې، فکرونه او نور موضوعات په مختلفو زاويو کې په انځورونوکې رانغاړي او انځور کوي يې.
داړتيا په صورت ليکونکی لومړيتوب په ټولنه کې هغه ولسونو ته ورکړي، کوم چې په دردونواو ستونزو اخته اويا له نورو عملونو رنځ وړي.
داچې ليکوال په کوم ډول د ټولني لوړې او ژورې په خپلو ليکلو کې ځای پر ځای کوي، هغه دخپل ليکوال مهارت او وړتيا ده، چې لوستونکې دليکني سر تر پايه پارګرافونو ته ځير او خپله تنده پرې ماته کړي.
اوسني ځيني ليکوالان شته چې ليکني کوي او دليکنو طرز يې ډيرخوا ليکنو چې ډير يې توصيفي ليکني وي هغه بيا ځلي تکرار وي او داچې ليکنه بايد پرهغه موضوع راو څرخي، چې له سرليک سره تړاؤ او کټور پيغام خلکوته ورسوي.
لکه چې يادونه وشوه، اوسني نوي ليکوالان کوښښ په دې کوي، چې ليکنه په ډير تيزی سره خلکو ته وړاندې کړي او دکاغذ مخ ډک کړي، نو بايد ليکوال له حده زيات کوښښ وکړي، چې دليکني ټول قواعد او اصول په پام کې ونيسي، ترڅو ليکنه يې دليکوالي په چوکاټ برابره وي.
ښه ليکنه هغه ليکنه ده، چې د خلکو، ټولني دردونه، ستونزې، فکرونه، وړانديزونه او نور... پکې انځور شوي وي، ځانګړې پيغامونه په لنډو غونډلو(جملو) کې خلکو ته په ښه ډول افاده کړای شي.
دهرې ژبې لوستونکوته بايد ليکنه په ساده تورو او غونډلو سره وشي، ځکه زموږ په هيواد کې ټول ولسونه دسواد له نعمته ندي برخمن شوي، خو ليکوال دخلکو په ژبه ليکني وکړي، سمه ده، چې ډيرې لوستي کسان به د معتبرو ليکوالو ليکني لوستلای او په مفهوم يې پوهيدلای شي، نو بايد چې دټولنو دخلکو وړتياوې، تعادل او برابري په نظر کې ونيول شي.
ليکنه بايد ساده وي، دومره ساده نه چې ليکوال دخلکو په ذهن کې يو قسم را تاو شي، چې ګوندې ليکوال پر هيڅ څه نه پوهيږي، هدف دی ساده ليکنو داده، چې موضوع ښکاره، په اړونده موضوع څرخيدل، د سقيلو (سختو) وييونو (لغاتونو) څخه ډډه او ليکنه لنډه وي، خو داسې ليکنه چې ټولې موضوعګانې راخيستل شوي وي او دلوستونکو پر ذهنونو چې کومې پوښتني راګرزي هغه ټولو ته ځواب پکې ويل شوېوي. ياني په ليکنه کې د ولس ژبه نغښتې وي.
ليکوال کوښښ وکړي، چې ديوې موضوع په غوره کولو کې برلاسی او پوره معلومات ولري، دليکني پر وخت ورته کومه ستونزه پيدا نشي، ځکه دليکلو پرمهال ليکونکي ته چې کومه ستونزه په غوره شوي موضوع پيدا شوه، نو بيا دليکني تر اغيزې لاندې راځي او ذهن يې بل لورې ته بيايي.
ليکونکی د ورځني مهال ويش په جدول کې مطالعه او لوست ته ډير ځای ورکړي، تر څو دمطالعې له لارې معلومات راټول اوپرې ليکني وکړي.
که ليکوال مطالعه او لوست ونه کړي، نو ديوې دايرې په شان به بند پاتې وي، پردومره معلوماتو به ليکنه وکړي، چې نور له دايرې ها خوا وروړاندې کيدای نشي، نو اړينه ده، چې ليکوونکي دليکنو تر څنګ مطالعه ډيره ولري او موضوع په سم ډول خلکوته رسم کړي.
که دليکوالي ليوال ياستئ، نو قلم ته لاس کړئ وليکئ، وليکئ وروسته پکې سمون او اصلاحات راولي او بيا يې په پوره غور ولولئ، کله چې مو ولوسته نو بيا هم په کې سمون راوستلای شي او له هغې وروسته له ځان سره خپله ليکنه وساتئ او دپوهنتون استاد اويا يو ليکوال ته يې وروښايئ، کله چې هغه وليده، نو خپلې لومړنی ليکني سره سر ورکړئ، ستاسو دليکني غښتلي او ضعف ټکي ښکاره کوي او له دې سره ليکوال ځان جوړلای شي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دې پروسې ته ترډېر وخت دوام ورکړئ، کله چې ستاسو زړونه دلیکنې څخه تور شول نو اړتیا نشته چې ولیکئ، خو دیو کم وخت لپاره دمه وکړئ، چې ستاسو ذهن آرام واخلي او کله چې بیا ستا لیکوالي ته تنده راغله ژر ترژره پرې ودانګئ او لیکنې وکړئ.
ښوونیز، ټولنیز، دیني او ورځني مضمونونه زیات ولولئ، ددې ترڅنګ کوښښ وکړئ، چې داسې یوه موضوع ځان لپاره غوره کړئ، چې څېړنیزه بڼه ولري، نو څېړنیز موضوع ستاسو لیکوالي ته نورهم جذابیت او ستاسو کارونو ته خلاقیت ورکوي، ښه داده، چې څېړنه مو له کتابونو، انټرنیټ، لرغونو سیمو، تاریخي ځایونو، او دخلکو ویناو څخه پیل کړئ او له یادو نومونو څخه لوست، لیدنه او آوریدنه ترسره کړئ، خو سرچینه باید دلیکنې په پای کې ولیکل شي.
په لیکنو کې بیا ځلي (تکرار) باید نه وي او لیکنې هم له یوې او بلې لیکنې سره د پیغام په لیږد کې ورته والی (مشابهت) ونلري. که موضوع یوشان یا له بلې موضوع سره اړیکیت ولري، ښه داده، چې هماغه موضوع په یوې لیکنې بسنه وشي.
لیکونکی باید دټولنې درناوی ولري، په لیکنه کې هغه څه ورزیات نکړي، چې دهمغې ټولنې ناوړه رسوم یانې خپلو خلکو دخیلې سیمې سپکاوي یوبل ته کړي وي کوښښ دې وکړي، چې لیکنه په دې قسم پیل کړي، چې د ټولنې ولسونو ته انځوریزپیغامونه وروبښي، ترڅو ټولنه له ناوړو دودونو څخه وژغورل شي.
لیکوال ته اړینه ده، چې دخپل هیواد، ټاټوبې اوسیمې ملي ګټې په پام کې ونیسي، دهیواد دقومونو ولسونو ته پوره پوره درناوی ولري او لیکوال نباید په یو لورې ځان وتړي، ځکه بیا هغه لیکوال کیدای نشي او دلیکوالي ټول اصول او مفردات دپښولاندې کوي.
لیکوونکی دځان دمشهورتیا په خاطر لیکنې ونه کړي پریږدئ دلوستونکو پریکړو ته چې دوی څه وایي، دلوستونکو په زړونو کې څومره محبوبیت پیدا کوي او دهغه لیکنې په ټولنه کې څه بدلون او اغیزمنتیا راوستلای شي.
نو مشهور لیکوال ځان پخپله ښکاره کوي، لیکنې یې په ګرامري، لیکوالي او ادبي قواعدو ولاړې وي او لوستونکي په دې تمه ناست وي، چې دپلانکي لیکوال لیکنې به کله خپره شي، چې څه یې لیکلي دي .
که څوک څومره زیاتې لیکنې وکړي، نو د لیکوالي او ګرامري اوصولو په برخو کې ستونزې لیدل کیږي او وي، هغه لیکنې بیا هیڅ پرخلکو اثر نه کوي اونه هم لوستونکي لري، چې دهغه لیکوال لیکنې ولولي.
اثر لرونکي لیکنې کله چې دلوستونکي سترګي دپوخ او پیاوړې لیکوال په نوم ولویږي، نو دهماغه لیکوال لیکنې سر تر پایه په آرام فکر لولي او مفهوم ورڅخه اخیستلای شي، چې په ورځنیو چاروکې لوستونکي هم ورڅخه ګټه پورته کوي.
اوسني لیکوالان چې دلیکنو پر پل یې قدم ایښې هغوی ته یادونه کیږي، چې علمي او څېړنیزو لوست او مطالعې ترڅنګ زیار وباسي، چې دپیاوړو لیکوالانو لیکنې دهم ولولي، تردې چې دلیکنو طرز او بڼه یې جوړه شي.
نو ښه داه، چې که ښه او تکړه لیکوال له ځانه جوړه وئ، باید مطالعې او لوست ته ډیره پام ورواړه وئ، ادبي او فرهنګي ناستو کې ګډون وکړئ، څه زده کړئ او خپلې لیکنو کې ځای پر ځای کړئ، چې بیا هغه وخت لیکونکي کیدای شو، چې دلوست له لارې څه چې مو زده کړي وي، پوره برلاسی پرې ولرئ او لیکنه پرې وکړئ.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ